بسم الله الرحمن الرحیم

## د تهرپارکر د ځوانانو د ژوند یوازینی ساتونکی اسلام دی

**خبر:**

د ۲۰۲۲م، په لومړۍ میاشت کې د مختلفو ناروغیو له امله په تهرپارکر کې د ۳٦ ماشومانو د مړینې یو زړه بوږنوونکی راپور خپور شو، چې صوبایي حکومت د دې ستونزې له حل څخه عاجز دی. سرچینه: (بریبون پاکستان)

**تبصره:**

د تهرپارکر د روغتیایي څانګې د معلوماتو له مخې، په تېر ۲۰۲۱م، کې تر ٦سوو زیات نوي زیږېدلي ماشومان مړه شوي. د دغه مړینې اصلي لامل د روغتیایي پاملرنې او مناسبو خوارو نشتوالی دی. لکه څرنګه چې موږ ټول په دې پوهېږو، چې اوبه له بنسټيزو اړتیاوو څخه دي، خو د تهرپارکر خلک د ورځې یوه زیاته برخه وخت د پاکو اوبو پر پیداکولو لګوي.

دوی د اوبو له بېلابېلو سرچینو لکه: د باران او ژورو کندل شویو څاګانو له اوبو څخه ګټه اخلي. د ځمکې اوبه چې په زیاته کچه فلورایډ او فلوروسیس لري او په دوامدار ډول کارول یې د ساري ناروغیو لامل کیږي، چې په تهرپارکر کې د مختلفو ناروغیو لکه: د غاښونو فلوروسیس، د کډو یا مفصل د شکل د بدلون، تایراید او پوښتورګو د نارغیو لامل کیږي. هغه لویان چې د خوارځواکۍ په ناروغۍ اخته دي د دوي ماشومان هم په ورته ناروغۍ اخته کېږي. د اټکل له مخې تهرپارکر ۱٫٦ ملیونه نفوس لري، چې په ۲۲زره کیلو متره مربع ځمکه کې مېشت دي. په دغه سیمه کې د اوبو کمښت لویه ستونزه ده او د دې سیمې د اوسېدونکو لپاره د څاګانو اوبه یوازینۍ سرچینه ده. دوی د اوبو د ترلاسه کولو لپاره اړ دي چې سهار وختي حرکت وکړي او دری کیلومتره مزل وکړي. په داسې حال کې چې هوا هم ګرمه وي. ځینې وخت دوی د باران د ذخیره شویو یا له کوچنیو ټانکونو څخه اوبه اخلي او د بوشکو یا ډولچو په وسیله یې انتقالوي.

په تېرو کلونو کې بېلابېلو حکومتونو د خپلو ګټو لپاره د تهرپرکر د خلکو له لوږې، مړینې او وچکالۍ سیاسي ګټه پورته کړې. د اوبو رسونې پروژې یې اعلان کړې، خو هېڅلکه یې پلي نه کړې. د روغتیایي اسانتیاوو

نشتوالي دا ستونزې نورې هم ډېرې کړې. په دغه سیمه کې که څوک وغواړي روغتیایي خدمات ترلاسه کړي، نو اړ دي چې اوږد واټن ووهي او زیاتې پیسې مصرف کړي. په ۲۰۲۱م، کې د ماشومانو مړینې راپور خپور شو، په دې راپور کې ویلی شوي و، چې د تهرپارکر ولسوالی په روغتونونو کې هېڅ ډاکتر، درمل او روغتایي خدمتونه نشته، چې دا خپله د خلکو او حکومت ترمنځ بې باوري څرګندوي.

په اسلامي امت کې داسې خلک شته چې د خپلو وروڼو او خویندو درد احساسوي او ډېر سازمانونه او اشخاص د دغې سیمې د خلکو د ستونزو د حل لپاره کار کوي. موږ وینو چې په شاوخوا کې شخصي روغتیایي کمپونه جوړ شوي، ترڅو له خلکو سره مرسته وکړي، خو دا د دوی اړتیاوې نشي پوره کولای. په دې توګه  خلک دوه ځله پیسې ورکوي؛ لومړی حکومت ته د مالیاتو په بڼه او دویم د تهرپارکر د سیمو خلکو سره مرسته کوي. دا ستونزه د حل کېدو وړده یوازې یوه مناسب پلان ته اړتیا لري. تهرپارکر په نړۍ کې یوازینی حاصل خیزه ځمکه ده او د پاکستان د جیولوژیکي سروې له مخې د دغې ولسوالۍ د ډېرو سکرو ذخیره نږدې ۱۷۵ ملیارده ټنه ده. اټکل شوی چې د ا په نړۍ کې د سکرو تر ټولو لویه زېرمه ګڼل کېږي، که له دغه ذخیرو څخه په سمه توګه استفاده شوې وای، نو نه یوازې د پاکستان د انرژۍ ستونزه به بې حل کړې وای، بلکې د تهرپارکر د خلکو ستونزې به هم حل شوې وای او په عزت کې به یې ژوند کولای. ان که د ډېرو سکرو زېرمې نه وای او د اوبو رسولو امکان نه درلودای، دولت مکلف و چې د تهرپارکر د سیمې د خلکو ژوند وژغوري.

په اسلام کې پرته له دې چې نژاد او د اوسېدو ځای په پام کې ونیول شي، د ټول امت لپاره یو حاکم دی. اسلامي امت یوازې د اسلامي خلافت ترسیوري لاندې د ژوند په ټولو برخو کې د ارام احساس کوي. عامه ملکیتونه به د عامه ګټو لپاره کارول کیږي. خلیفه به والیان ټاکي او هماغه والیان به د خپلې سیمې مسؤل وي. خلیفه به د حق د لاربښوونکي خلیفه عمر بن الخطاب رضی الله عنه پیروي کوي، چې د واکمنۍ موده یې له لومړیو څلورو خلفاوو راشدینو څخه ډېره اوږده وه. هغه د مسلمانانو د چارو د غوره سرپرستۍ او قوي احساس له امله مشهور و. دغه راز د شپې به یې ګزمه کوله، ترڅو ډاډ ترلاسه کړي او ځان د خلکو له حال څخه خبر کړي، الله سبحانه وتعالې د موږ ته یو صالح واکمن رانصیب کړي!

رسول صلی الله علیه وسلام فرمایلي:

«**مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْتَرْعِيهِ اللَّهُ رَعِيَّةً يَمُوتُ يَوْمَ يَمُوتُ وَهُوَ غَاشٌّ لِرَعِيَّتِهِ إِلَّا حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ**» [رواه: بخاري و مسلم]

***ژباړه:*** *هېڅ داسې بنده نشته چې الله سبحانه وتعالې د هغې ترسرپرستۍ لاندې ځينې خلک نه وي ګومارلي او که نوموړی په داسې حال کې مړ شي، چې تر لاس لاندې خلکو سره يې خيانت کړی وي، الله سبحانه وتعالې پر هغه جنت حرام کړی دی.*

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:

**«فَلَمْ يَحُطْهَا بِنُصْحِهِ لَمْ يَجِدْ رَائِحَةَ الجَنَّة»**

*ژباړه: څوک چې له خپل رعيت سره نيکي او اخلاص ونه کړي، د جنت بوی پرې حرام دی.*

په يوه بل ځای کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:

**«مَا مِنْ أميرٍ يلي أمور المُسْلِمينَ، ثُمَّ لا يَجْهَدُ لَهُمْ وَيَنْصَحُ لَهُمْ، إِلاّ لَمْ يَدْخُلْ مَعَهُمُ الْجَنَّةَ»**

*ژباړه: هغه حاکم چې د مسلمانانو چارې ورته سپارل شوې وي او د اصلاح په هڅه کې يې نه وي او همدارنګه په صادقانه ډول يې خدمت ونه کړي، جنت ته نه شي داخلېدای.*

د **حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**ليکوال: اخلاق جهان**

**۱۴۴۳هـ.ق، د جمادی الثاني ۲۵مه**

**۲۰۲۲م، د جنوري ۲۸مه**